MUDH
د کور او ښار جوړولو وزارت
وزارت شهرسازی و مسکن

# انکشاف شهر



د کور او ښار جوړولو وزارت نشراتي ارګان

فصلنامه شماره ۵۵

سال ۱۴۴۴ هـ ق، ۱۴۰۲ هـ ش، ربع اول



MUDH

د کور او ښار جوړولو وزارت

وزارت شهرسازی و مسکن

د کور او ښار جوړولو وزارت هېوادوالو ته په ارزانه بیه د کورونو او هستوگنیزو بلاکونو د جوړولو په موخه کورني او بهرني پانگوال هڅوي تر څو په دې برخه کې پانگونه وکړي.

د امتیاز خاوند: د کور او ښار جوړولو وزارت

مسؤل مدیر: محمد کمال افغان

د مسؤل مدیر مرستیال: عزیزالله فروغي

اډیټور: محمد کمال افغان، نویدالله نبي زاده

لیکوالان: مولوي نقیب الله احمدي، فضل الرحمن رحماني، انجنیر راحت الله ریحان، عبدالله فکور، نویدالله نبي زاده، عزیزالله فروغي، محمد یوسف روستایي، انجنیر احمد رضایي، محمد اتل جلالزی، انجنیر محمد علي مظفري او انجنیر نظیف الله قادري

خبریالان: نویدالله نبي زاده، میوند خپلواک

ډیزاینر: محمد عمران عزیزي

عکاس: صفي الله هوتک

وېشونکي: سمیع الله عزیزي، سید مرتضی موسوي

د کور او ښار جوړولو وزارت نشراتي ارگان

مهالنۍ مجله کال ۱۴۴۴ هـ ق

پته : ۹مه ناحیه، ۳ مکروریان، د کور او ښار جوړولو وزارت، کابل افغانستان

اړیکو شمیرې: ۰۷۱۲ ۰۲۳۰ ۹۳۲+، ۹۳۷۸۱۲۸۸۷۳۷+

ویب پاڼه: www.mudh.gov.af

# فهرست مطالب

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | سخن نخست | ۱ |
| ۲ | گزارش و اخبار مهم | ۲ |
| ۳ | د حج او عمرې په اړه لنډ معلومات | ۲۵ |
| ۴ | وظایف و اجراآت منابع بشری چیست؟ | ۲۷ |
| ۵ | د کور بازارموندنې تگلاره | ۳۰ |
| ۶ | بهسازی ساحات غیر پلانی در | ۳۳ |
| ۷ | د اوبو مدیریت او کتنې | ۳۷ |
| ۸ | وظایف عمده انجنیر ناظر | ۳۹ |
| ۹ | اوبه د راتلونکو نسلونو میراث | ۴۲ |

# سخن نخست

## پروژه آپارتمانی شهرک چینایی‌ها؛ زمینه ساز گسترش مسکن

وزارت شهرسازی و مسکن همواره در تلاش جلب سرمایه‌گذاری داخلی و خارجی به هدف اعمار مسکن برای هموطنان عزیزمان بوده و در این راستا توجه جدی را مبذول داشته تا روند سرمایه‌گذاری را در ساخت و ساز مسکن افزایش داده و مشکل بی‌سرپناهی شهروندان کشور را مرفوع نماید که خوش‌بختانه تلاش‌های مسوولین و مقام رهبری این وزارت نیز ثمر بخش بوده و دست آوردهایی را در این زمینه در پی‌داشته است. دراین اواخر محترم وانگ یو، سفیر کشور چین با محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن دیدار نموده، از روابط نیک بین دو کشور یادآوری کرده، افزود که کشور چین اکنون روابط خوبی سیاسی و اقتصادی با افغانستان دارد، تلاش می‌شود تا این روابط در سطوح مختلف گسترش یابد. دراین دیدار سفیر چین، از پروژه‌های مختلف آن کشور در افغانستان سخن گفته و علاوه کرد که پروژه‌های زیادی در اولویت کاری کشورش قرار دارد و پروژه نیله باغ یکی از این پروژه‌ها می‌باشد که به زودی کار عملی آن آغاز خواهد شد.

با این حال سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، در این دیدار به سفیر چین اطمینان داده گفت که ا.ا.افغانستان به تمامی مسوولیت‌های قبول شده در قبال تفاهم‌نامه بین جمهوری خلق چین و امارت اسلامی افغانستان متعهد می‌باشد. آقای نعمانی در پیوند به مشکلات و چالش‌های پروژه نیله باغ گفت که جهت رسیدگی و حل برخی مشکلات موجود، خود و تیم همراهانش در ساحه رفته، چالش‌ها و مشکلات امنیتی و برق آن پروژه را رفع نموده است. قرار است که کار روی عملی‌سازی پروژه شهرک نیله باغ، ناحیه ششم شهر کابل که تفاهم نامه آن در سال 1397 خورشیدی، امضا شده بود آغاز گردد. کشور چین در فاز اول 1400 واحد مسکونی (1400 باب آپارتمان رهایشی) را باکیفیت عالی در حد یک شهرک، با تمامی زیربناها و نیازمندی‌های آن اعمار می‌نماید. از این رهگذر زمینهٔ بیشتر سرمایه‌گذاری برای کشورهای که علاقه‌مند به چنین پروژه‌ها در افغانستان باشند مساعد می‌گردد و به همین منوال وضعیت موجود اقتصادی را تبدیل به زمینه‌های مولد اقتصادی برای دولت و ملت افغانستان خواهد ساخت که این مسأله باعث پیشرفت و ترقی مملکت خواهد شد. با اعمار 1400 واحد آپارتمانی ارزان قیمت نه تنها برای مامورین خدمات ملکی اثرات مثبت زیادی دارد بل‌که در کل روی اقتصاد، اجتماع و سطح زندگی مردم اثرات خوبی داشته و همچون پروژه‌ها باعث تحکیم روابط دولت کمک کننده جهت ادامه کمک‌ها در این راستا می‌شود. در صورت تکمیل و ساخت آپارتمان‌های متذکره یک مقدار پول که از فروش این آپارتمان‌ها عاید وزارت شهرسازی و مسکن می‌شود، نیز به دوران افتاده و از اثر آن فرصت‌های فراوان برای پیشبرد امور مسکن در راستای تحقق اهداف وزارت شهرسازی و مسکن فراهم می‌گردد. هزینه ساختمانی پروژه به شکل مجموعی از طریق کمک بلاعوض کشور چین تمویل می‌گردد که تقریباً بالغ به 71 میلیون دالر امریکایی می‌شود. هنگامیکه پول مذکور به صورت اختصاصی جهت گسترش دیگر شهرک‌های رهایشی به مصرف برسد باعث ایجاد شغل بیشتر، کاهش فقر، فراهم‌آوری مسکن قابل استطاعت و منجر به گسترش سریع و پایدار مسکن در کشور خواهد شد. مسوولین وزارت شهرسازی و مسکن با نشست‌های متعدد، هماهنگی مناسب را در زمینه با دولت چین به وجود آورده است و با شروع کار عملی این پروژه زمینه کار برای یک هزار شهروند کشور به صورت مستقیم و به تعداد پنج هزار نفر به صورت غیر مستقیم مساعد می‌گردد و با تکمیل شدن فاز اول آن زمینه زندگی آرام در کانون گرم خانواده برای هفت هزار جمعیت کشور در این شهرک، مهیا می‌گردد.

# د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست
# په کابل کې د چین له سفیر سره وکتل



د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني په خپل کاري دفتر کې په کابل کې د چین هېواد له سفیر ښاغلي وانګ یوو سره وکتل او په بېلا بېلو ودانیزو موضوعاتو یې خبرې وکړې.

د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست په ځانګړې توګه په کابل کې د نیله باغ پروژې د په ټپه ولاړو چارو د بیا پیل او سرته رسولو غوښتنه وکړه. محترم شیخ حمدالله نعماني وویل، د ا.ا.ا د ټولو هغه مسؤلیتونو ترسره کولو ته ژمن دی چې په تفاهم لیک کې لیکل شوي دي.

نوموړي وویل، تېره اوونۍ یې د دغې پروژې له نیمه کاره چارو لیدنه وکړه او هلته د برېښنا او امنیت برخه کې شته ستونزې یې حل کړې. ښاغلي نعماني د خپلو خبرو په دوام، په کابل کې د چین له سفیر غوښتنه وکړه، چې څومره ژر چې کېدای شي د یادې پروژې چارې پیل او ګټې اخیستنې ته دې یې وسپاري. دغه راز په لیدنه کې ښاغلي سرپرست وزیر له چینایي لوري غوښتنه وکړه، چې افغانستان کې د پانګونې په موخه چینایي پانګوال وهڅوي، ځکه په وینا یې اوسمهال افغانستان کې امنیت خوندي دی او د پانګونې لپاره مناسب شرایط او چاپېریال رامنځته شوی دی.

د وزیر بله غوښتنه د چین له سفیر دا وه، چې د کور او ښار جوړولو وزارت د کار کوونکو لپاره دې په تخنیکي او نورو برخو کې د لنډمهاله او اوږدمهاله زده کړو زمینه برابره کړي.

په لیدنه کې کابل کې د چین سفیر ښاغلي وانګ یوو، د چین او افغانستان تاریخي او دوستانه مخینې ته اشاره وکړه او یادونه یې وکړه، چې دوی د یو امن او باثباته افغانستان هیله لري. سفیر وانګ یوو زیاته کړه، تمه لري چې د چین او افغانستان ترمنځ به سیاسي او اقتصادي اړیکې لا پیاوړې او پراخه شي او دغه برخه کې د دواړو هېوادونو پر مثبت رول یې ټینګار وکړ. په کابل کې د چین سفیر وویل، ډېرې رغنیزې پروژې یې په لومړیتوب کې دي، چې د نیله باغ پروژه هم یوه له هغو ده او دوی هم لېواله دي چې چارې یې پیل شي. د خپلو خبرو په پای کې د چین سفیر ښاغلي وانګ یوو، زیاته کړه چې د کور او ښار جوړولو وزارت د کارکوونکو د کاري ظرفیت لوړونې او په افغانستان کې د پانګونې په موخه به د خپل حکومت او پانګوالو سره خبرې وکړي، چې په خبره یې تمه لري مثبته پایله به ولري.



# طرح 17 پلان شهری برای 14 ولایت کشور تهیه گردید

طرح و ترتیب پلان های شهری از وظایف کلیدی وزارت شهرسازی و مسکن می باشد، رهبری این وزارت متعهد به طرح، ترتیب و منظوری پلان های شهری و ایجاد فرصت های توسعه منظم شهرها می باشد. به منظور رسیدن به این هدف وزارت شهرسازی و مسکن، طرح 17 پلان شهری برای 14 ولایت از جمله ماسترپلان، پلان های جامع ملی، پلان های تفصیلی، پلان های منطقه‌یی و پلان های اصلاحی را تهیه کرده است. حدود 200 پلان شهری از قبیل پلان تفصیلی، استراتیژیک، ماسترپلان، بهسازی و شبکات برای مرکز و ولسوالی های ولایات

اسناد و سوابق پلان SDF سه شهر(هرات، کندهار و خوست) در هماهنگی با ریاست شاروالی ها به هدف تثبیت حدود شهری بازنگری شده و پلان های بهسازی هفت ناحیه شهر هرات را پس از تهیه برای تطبیق به شاروالی هرات ارسال شده است.

پلان های بهسازی برای شش ولایت لغمان، سرپل، بلخ، فاریاب، کندز و خوست ساخته شد و به منظور شهرک سازی، 12 ساحات مختلف در 9 ولایت سروی توپوگرافی زمین گردید.

وزارت شهرسازی و مسکن، از وزارت های پیشتاز در سکتور شهری و یکی از کلیدی ترین وزارت های امارت اسلامی افغانستان می باشد که زمینه توسعه متوازن شهر ها را مهیا می کند.



# په تېر ۱۴۰۱ کال کې د کور او ښار جوړولو وزارت لاسته راوړنې له ولس سره شریکې شوې

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست شیخ حمدالله نعماني، د دغه وزارت د ښاري چارو محترم مرستیال شیخ مدارعلي کریمي بامیاني، د وزارت د ساختماني چارو، مسکن او زونونو پراختیا محترم سرپرست مولوي روح الله احمدي او یو شمېر رئیسانو د حکومت د رسنیو په مرکز کې د تېر ۱۴۰۱ کال فعالیتونه او لاسته راوړنې د یو خبري کنفرانس په مهال له ملت سره شریکې کړې. د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست شیخ حمدالله نعماني وویل، په ښاري برخو، مسکن، ساختماني چارو، بشري سرچینو او دغه راز په نورو برخو کې د کور او ښار جوړولو وزارت په تېر کال کې مهمې او ملموسې لاسته راوړنې درلودې. ښاغلي وزیر زیاته کړه، د دغه وزارت عمده مسؤلیت دا دی چې پلان جوړونه وکړي، له چارو او د پلانونو له ښه تطبیق څارنه وکړي، چې د ماستر پلان، تفصیلي پلانونو، ستراتېژیک پلانونو، سمون پلانونو، تعدیلي پلانونو، اصلاحي او نورو پلانونو برخه کې د پام وړ کارونه شوي دي.

په خبري ناسته کې د ښاري چارو محترم مرستیال شیخ مدارعلي کریمي بامیاني وویل، په تېر لمریز کال کې د ۱۴ ولایتونو لپاره ۱۷ ښاري پلانونه جوړ شوي او تر ۲۰۰ نور ښاري پلانونه مرکز او د ولایتونو ولسوالیو ته چاپ او استول شوي دي. نوموړي د خپلو خبرو په دوام وویل، په ټول هېواد کې د ښاري پلانونو په مطابقت کې د اوبلن ګازو او تیلو د پمپ سټېشنونو د جوړولو په موخه شرایط او لارښود ترتیب شوي او د درې ښارونو (هرات، کندهار او خوست) لپاره د (ایس، ډي، ایف) پلانونو بیا کتنه شوې ده. هغه زیاته کړه، د کور او ښار جوړولو وزارت درې برنامې او ۷ پروژې لري چې د ټولو د چارو د ښه پرمختک په موخه یوه کمېټه جوړه شوې ده. په ورته مهال ښاغلي مولوي روح الله احمدي وویل، د قطري پروژې، چنایي پروژې چارې په تېر کال کې پیل شوې چې تر اوسه یې ۱۰ او ۳۰ سلنه چارې پر مخ تللي او دغه راز د تخار ولایت په خواجه بهاؤالدین ولسوالۍ کې د مهاجر قشلاق سیمه کې د خلکو لپاره ۱۵۰ جریبه ځمکه ځانګړې کړه چې هرې کورنۍ ته یې د اوو بسوو په اندازه ځمکه د کور جوړولو په موخه ورکړه. د نوموړي په خبره، د ۸۱ اماراتي ساختمانونو طرح، ډیزاین او تحلیل شوی او د ۴۷۸ غیر منقول ملکیتونو قېمت ګذاري شوې، د غیر پلاني ودې مخنیوی شوی او له ساختماني چارو څارنه شوې ده.

د کور او ښار جوړولو وزارت د روان ۱۴۰۲ کال لپاره په پام کې لري چې د نورو پلانونو ترځنګ خوا او شاه 37 ښاري پلانونه ترتیب کړي، د کابل جدید ښار عملي چارې پیل کړي، چې په همدې موخه یې سر له اوسه د ځمکې د تصفیې چارې پیل شوې دي، په مرکز او ولایتونو کې د نوو پروژو د امکان سنجۍ په موخه لږ تر لږه 30 مطالعات وکړي، په ټول افغانستان کې په ملي کچه د ملي مسکن سروې پیل کړي، د مسکن وجهي صندوق جوړولو په موخه یوه منظمه طرحه جوړه کړي، او داسې نورې ګټورې چارې ترسره کړي.

# مشکل برق و امنیت پروژه شهرک مسکونی نیله باغ در منطقه دارالامان کابل حل شد

محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، از پروژه نیمه کاره شهرک مسکونی نیله باغ در منطقه دارالامان کابل با حضور تعدادی از رؤسا و مسوولین آن پروژه بازدید به عمل آورد. محترم شیخ حمدالله نعمانی با اشاره به مشکلات و چالش‌های موجود در پروژه متذکره به مسوولین مربوطه برای رفع آن مشکلات هدایت‌های لازم را سپرد.

سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، معضل کمبود برق پروژه شهرک مسکونی نیله باغ را حل کرده و افرادی را برای تأمین امنیت آن پروژه تعیین کرد.

محترم مولوی نعمانی، ابراز اطمینان کرد که مسوولیت‌های مربوط به این وزارت را به موقع انجام خواهد داد. وی، افزود که ما خود را در برابر خداوند و ملت خود مسوول می‌دانیم و تلاش ما این است که خدمات به موقع و مؤثری را برای مردم ارایه دهیم. قابل ذکر است، کار عملی این پروژه به تاریخ 12/06/1398 هـ، ش، آغاز و سپس به دلیل شیوع ویروس کرونا و برخی دلایل دیگر متوقف شد و کار آن پروژه ناتمام باقی ماند. وزارت شهرسازی و مسکن، در تلاش است تا با درنظرداشت امکانات موجود پروژه‌های مربوط به این وزارت را از سر گرفته و به بهره برداری برساند.



# د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست په کابل کې د ملګرو ملتونو د مشورې دفتر له رئیس سره وکتل

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست شیخ حمدالله نعماني، د دغه وزارت د ساختماني چارو، مسکن او زونونو پراختیا سرپرست محترم مولوي روح الله احمدي او یو شمیر مسؤلینو په شتون کې، په کابل کې د ملګرو ملتونو د مشورې دفتر (یوو، این، او، پي، ایس) له رئیس سره وکتل او د وزارت اړوندو ځینو پروژو په اړه یې خبرې وکړې. د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست د (یوو، این، پي، ایس) دفتر رئیس او ملګري ته ښه راغلاست وویل د کور او ښار جوړولو وزارت اړوند د کابل جدید ښار ته د اوبو رسولو پروژې، چې د جاپان جایکا لخوا یې لګښت ورکول کیږي، په اړه یې خبرې وکړې. له دغې لیدنې موخه دا وه چې څنګه کېدای شي د کابل جدید ښار ته د اوبو رسولو پروژه چې اومسهال ځنډېدلې ده، بېرته یې عملي چارې پیل او ګټې اخیستنې تنه وسپارل شي. محترم شیخ حمدالله نعماني یادونه وکړه، چې یاده پروژه یوه ملي او حیاتي پروژه ده چې ګټه یې عام ولس ته رسیږي او په کابل کې د ملګرو ملتونو د مشورې دفتر له رئیس یې غوښتنه وکړه، چې د یادې پروژې په بیا پیلولو کې له وزارت سره همکاري وکړي. ورپسې په کابل کې د ملګرو ملتونو د مشورې دفتر رئیس د خپلو خبرو په دوام یادونه وکړه، چې د دوی د دفتر چارې عملاً روانې دي او کابل جدید ښار ته د اوبو رسولو پروژې په بېرته ژر پیلولو کې به د جاپان هېواد له سفارت او د جایکا ادارې له مسؤلینو سره خبرې وکړي.

تمه ده چې د ملګرو ملتونو د مشورې دفتر د استازو په همکارۍ به د جایکا ادارې مسؤلینو او د کور او ښار جوړولو وزارت مشرتابه ترمنځ یوه ناسته برابره شي، چې څنګه کېدای شي عام المنفعه او په ځانګړې توګه د کابل جدید ښار ته د اوبو رسولو پروژه بېرته ژر پیل او ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

# مسوولین مؤسسه آقا خان برای اسکان از پیشرفت کاری پروژه‌های تحت کار آن مؤسسه معلومات دادند

مسوولین مؤسسه آقاخان برای اسکان، در دیدارشان با محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، از چگونگی و پیشرفت کاری در پروژه‌های تحت کار آن مؤسسه در افغانستان به سرپرست این وزارت معلومات دادند.

در این دیدار مسؤلان مؤسسه آقاخان، از همکاری‌های سرپرست این وزارت در تطبیق پروژه‌های شان تشکری کرده، ابرازداشتند که در حال حاضر بخش اسکان آن مؤسسه، سه پروژه از قبیل پروژه‌های اسکان مجدد دشت دیخواه در ولسوالی شکی بدخشان، ساخت 300 سرپناه در ولسوالی سپیره ولایت خوست و پروژه اعمار و ترمیم سرپناه برای عودت کنندگان و بیجاشدگان داخلی در ولسوالی پغمان کابل را زیر کار دارد.

آن‌ها، اظهار داشتند که پروژه ساخت 300 سرپناه در ولسوالی سپیره ولایت خوست 90 درصد پیشرفت داشته و عنقرب کار آن تکمیل و آماده بهره‌برداری می‌شود و کارهای ابتدایی پروژه اعمار و ترمیم سرپناه برای عودت کنندگان و بیجاشدگان داخلی در ولسوالی پغمان کابل انجام شده است.

سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، ضمن تشکری از همکاری و فعالیت‌های مؤسسه آقاخان برای اسکان، گفت که این وزارت از سهم‌گیری مؤسسات و نهادهای ملی و بین المللی در پروژه‌های عمرانی وزارت شهرسازی و مسکن حمایت می‌کند.

# د تخنيکي بورد نهمه ناسته وشوه

د کور او ښار جوړولو وزارت د محترم سرپرست وزير شيخ حمدالله نعماني په مشرۍ او د دغه وزارت د ښاري چارو محترم مرستيال شيخ مدارعلي کريمي باماياني او يو شمېر رئيسانو او امرينو په شتون کې د تخنيکي بورد نهمه ناسته وشوه. په دغه ناسته کې په بېلا بېلو تخنيکي، اداري او رغنيزو موضوعاتو خبرې وشوې او نظرونه ورکړل شول. پر سوداګريزو سيمو د هستوګنيزو سيمو تعديل، د ښاري تخلفاتو مخنيوی، د شته سرغړونو اصلاح او ځينې نور مهم ټکي د دغې ناسته اجنډا وه. د پېروزي هستوګنيزې پروژې د نمرو د قېمتونو پر ځرنګوالي او تعين، په خوشحال خان، خواجه رواش او قصبه هستوګنيزو ښارګوټو کې اپارتمانونو ته د شمارو ورکول، نور هغه موضوعات وو چې هر اړخيز بحثونه پرې وشول. دغه راز په ناسته کې د جامع ملي پلان او (جي، ای، ايس) رياست د دندو لايحې په اړه هم خبرې وشوې. د ناستې په پای کې د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزير شيخ حمدالله نعماني د هرې برخې مسؤلينو ته لازمې لارښوونې او سپارښتنې وکړې، چې د چارو په لا ښه ترسره کېدو او اغېزمنتيا کې به مهم رول ولوبوي.

# د ميدان وردګو ولايت د مرکز ميدان ښار د اته ښارګوټو څخه د څارنې بهير پيل شو

د ميدان وردګو ولايت د کور او ښار جوړولو رياست د دغه ولايت له محترم مقام او د ښاروالۍ رياست سره په ګډه د مرکز ميدان ښار اته ښارګوټو څخه د ليدنې او څارنې په موخه ناسته وکړه. په دې ناسته کې د ښارګوټو د څارنې او په کې د شته تخلفاتو او سرغړونو په نښه کولو او مخنيوي لپاره د ذکر شويو اداراتو ګډه کمېټه جوړه شوه. ياده کمېټه به د څو اونيو په اوږدو کې د مرکز ميدان ښار په اته (۸) ښارګوټو کې تخلفات په نښه او د حل په موخه به يې راپور د کور او ښار جوړولو وزارت له محترم مقام سره شريک کوي. د کور او ښار جوړولو وزارت هېچاته اجازه نه ورکوي، چې په خپل سرې توګه او د پلان خلاف ښاري پراختيا او رغنيزې چارې پر مخ يوسي. د کور او ښار جوړولو وزارت له ټولو هېوادوالو غواړي چې خپلې رغنيزې چارې د ماسټر پلان مطابق پلي کړي او خپله پانګه دې له ګواښ سره نه مخامخ کوي.



# کمیسیون امور شهری ویزه نقشه ها تشکیل جلسه داد

نشست کمیسیون امور شهری ویزه نقشه‌ها به رهبری محترم شیخ مدار علی کریمی بامیانی معین امور شهری وزارت شهرسازی و مسکن، دایر شده و روی موضوعات مختلف شهری صحبت گردید. در این نشست، چگونگی و شرایط احداث پمپ ستیشن‌های مواد نفتی و گاز مایع، مطابق با نورم‌ها و معیارهای شهری بیان شد.

همچنان، مسوولین مربوطه پیرامون تعدیل برخی ساحات رهایشی به تجارتی در ولایت غزنی نظریات شان ابراز داشته و تأکید کردند که به لحاظ پیشینه تاریخی آن ولایت، با درنظرداشت نورم‌های شهری از آثار و آبدات تاریخی آن ولایت نیز حفاظت گردد. اعضای کمیسیون ویزه نقشه‌های شهری روی موضوعات چون اصلاح و تعدیل پلان برخی ساحات در ولایت پکتیکا، چگونگی ویزه مارکیت رخت فروشی در شهر پل علم ولایت لوگر و تعدیل پلان ساحه تجارتی به رهایشی واقع در شهرک ملا غلام ولایت بامیان، نیز صحبت و تبادل نظر کردند. معین امور شهری، به اعضای این کمیسیون در زمینه پشیبرد مسایل مربوطه هدایت سپرده و بر پیگیری موضوعات مطرح شده تأکید کرد.

# از اعمار تعمیر مکتب فیضیه ولسوالی جاغوری ولایت غزنی نظارت شد

ریاست شهرسازی و مسکن ولایت غزنی از جریان کار تعمیر مکتب فیضیه ولسوالی جاغوری آن ولایت نظارت کرد. تیم نظارتی، کیفیت و کمیت کانکریت ریزی و خشت کاری تعمیر را ارزیابی نموده که 40 فیصد کار انجام شده است و برای پیشرفت بهتر کار ساختمانی این تعمیر مطابق به نقشه و شرطنامه با درنظرداشت استندردها و اصول انجنیری به شرکت قراردادی رهنمود لازم ارایه شد.

وزارت شهرسازی و مسکن از اعمار ساختمان‌ها نظارت و کیفیت آن را کنترول می‌نماید تا ساختمان‌ها به صورت اصولی و معیاری ساخت و ساز گردد.





# د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست د ساختماني شرکتونو د ټولنې له مشر او غړو سره وکتل

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني د په کور دننه ساختماني شرکتونو د ټولنې له مشر او غړو سره وکتل او په بېلا بېلو موضوعاتو یې خبرې اترې وکړې. په ناسته کې د ساختماني شرکتونو ټولنې مشر د نورو په استازولۍ خبرې وکړې او د خپلو چارو د کمیت او کیفیت برخه کې یې هر اړخیز ډاډ څرګند کړ. دوی غوښتنه وکړه، چې په رغنیزو پروژو کې دې کورنیو شرکتونو ته لومړیتوب او ونډه ورکړل شي. د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني وویل، هڅه کوي چې روان کال د ساختمان مارکېټ څرخ تاواولو او د چارو پرمختګ په موخه پر یو میکانیزم کار وکړي.

شیخ نعماني، په دغه برخه کې د ساختماني شرکتونو د ټولنې همغږي او همکاري هم اړینه وبلله او زیاته یې کړه، چې په نږدې راتلونکي کې به یوه بله ګډه ناسته وکړي او د ستونزو پر حل او د چارو بهیر پر چټکتیا به خبرې وکړي. ښاغلي حمدالله نعماني د ساختماني شرکتونو مسؤلینو ته ډاډ ورکړ، چې ملاتړ یې کوي او دوی هر وخت کولی شي وزارت ته راشي او خپلې مشورې د وزارت له مقام سره شریکې کړي. سرپرست وزیر وویل، افغانستان د ټولو ګډ کور دی او اړتیا ده چې افغانان یې په خپلو متو اباد کړي او د پردیو په تمه دې پاتې نه شي.

# کار تصفیه زمین شهر کابل جدید آغاز شد



محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن با حضورداشت محترم مولوي روح الله احمدي سرپرست مسکن، امور ساختماني و انکشاف زونها و شماری از مسوولین این وزارت با محترم مولوي عطاءالله عمري سرپرست وزارت زراعت، آبیاری و مالداری و دیگر مسوولان آن وزارت دیدار کرده و روی آماده‌سازی طرحی برای آغاز تصفیه زمین کابل جدید تبادل نظر کرد.

در این نشست، به صورت همه جانبه در رابطه به حل مشکلات و چگونگی آغاز تصفیه زمین کابل جدید بحث گردیده و مسوولین این دو وزارت نظریات و دیدگاه‌های شان در زمینه ابراز داشتند. در اخیر این نشست، فیصله به‌عمل آمد تا تیمی متشکل از متخصصین هردو وزارت هرچه عاجل طرح چگونگی آغاز کار تصفیه زمین کابل جدید را آماده نمایند تا تیم تصفیه زمین، عملاً کار خود را بر مبنای آن طرح در کابل جدید آغاز نمایند.

# په باميان ولايت کې د شپږپنځوس میلیونه افغانیو په ارزښت د يو فاميلي باغ پروژې د بنسټ ډبره کېښودل شوه

په باميان ولايت کې د کور او ښار جوړولو رياست د کورنيو او په ځانګړې توګه د ښځو د اقتصادي وضعيت پياوړتيا په موخه د کورني باغ په نوم د يوې ټولګټې پروژې د بنسټ ډبره کېښوده. په باميان کې د کور او ښار جوړولو رئيس محترم انجنير امان الله امان وايي، ياده فاميلي باغ پروژه په نهه جريبه ځمکه کې د شپږپنځوس (٥٦) ميليونه افغانيو په ارزښت جوړيږي، چې دوه اساسي برخې لري، يوه برخه يې د حرفه يې زده کړو لپاره چې اووه ښوونيز ټولګي لري او بله برخه يې بازارګوټی دی، چې (20) د لاسي صنايعو هټۍ او د ښځينه وو لپاره يو رستورانت لري.

دغه پروژه د باميان ولايت په دشت عيسی خان کې پيل شوه، چې مالي لګښت يې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کميشنرۍ لخوا ور کول کيږي. باميان ولايت کې د کور او ښار جوړولو رئيس ښاغلی امان الله امان وايي، په دغه پروژه کې به د ښځو لپاره د حرفه يي او کوچنيو سوداګريوو زده کړو زمينه برابره شي او دغه راز به د ښځينه قشر لپاره د کاروبار او تفريح يو مصؤن او مناسب ځای وي.






# ا.ا.ا برای همه افغان‌ها امتیاز یکسان قایل است و برای رفاه همه مردم کار می‌کند


محترم شیخ‌الحدیث والقرآن مولوی محمد هاشم، رییس عمومی دعوت و ارشاد، بعد از ادای نماز جماعت ظهر در جمع کارمندان وزارت شهرسازی و مسکن سخنرانی با ارزش را در رابطه به مسایل عقیدتی و اسلامی ایراد کرد. محترم شیخ الحدیث محمد هاشم، فرمود که اسلام دین روشنی است که در امور دنیوی و اخروی راهنمای همه بشریت میباشد. نامبرده، در کنار بیان سایر مسایل دینی افزود که هدف ا.ا.ا، این است تا بر علاوه دستاوردها، پیشرفت‌ها و ابتکارات دنیوی، برای موفقیت همه جانبه مردم خود و اجرای آموزه‌ها و احکام اسلامی کار می‌کنند. او، همچنین گفت که ا.ا.ا، به زبان، سمت، مذهب و ملیت نگاه نمی‌کند، بلکه کار را به کسانی که به اسلام، افغانستان و افغان‌ها متعهد هستند محول می‌کند. وی افزود که لازم است هر انسان علاوه بر فراگیری تحصیلات دنیوی، دستورات شرعی و شرایط مربوط به آن را بیاموزد و از آن در جهت خیر و صلاح مسلمانان استفاده کند. نامبرده، در ادامه سخنان خود گفت که یک عده توطیه کننده و فتنه‌گر داخلی و خارجی هستند که با نام‌های مختلف می‌خواهند بین افغان‌ها تفرقه و دشمنی ایجاد کنند که به گفته وی، کارمندان وزارت شهرسازی مسکن و سایر افغان‌ها نباید شکار این اهدف شوم دشمنان شوند و به عنوان یک ملت واحد برای پیشرفت کشور دست به دست هم دهند. محترم شیخ الحدیث محمد هاشم، در پایان صحبت‌هایش به کارمندان وزارت شهرسازی و مسکن، توصیه کرد که صورت و سیرت خود را با ارشادات اسلام برابر کنند، نمازهای شان را در جماعت ادا کرده، در خواندن نماز کلاه یا لنگی برسر نمایند و ریش خود را بگذارند که یکی از سنت‌های نبوی است و زنان کارمند نیز حجاب اسلامی را رعایت کنند. وی، گفت که در هر وزارت‌خانه‌ای که ریاست دعوت و ارشاد ایجاد شده است، هدف آن افزایش آگاهی دینی کارمندان و مردم در بخش اسلامی و عبادتی و اجرای کامل آن است. محترم شیخ الحدیث مولوی محمد هاشم، از ریاست دعوت و ارشاد وزارت شهرسازی و مسکن به خاطر انجام مسئولیت و رهنمودهای دینی کافی به کارمندان این وزارت تشکری کرد. شایان ذکر است که این محفل به به اثر سعی و تلاش محترم مفتی عبدالاحد حقانی، رئیس دعوت و ارشاد وزارت شهرسازی و مسکن برگزار شد.

# د خواجه رواش هستوګنيز ښارګوټي ستونزې حل کېږي


د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزير شيخ حمدالله نعماني په کابل کې د خواجه رواش هستوګنيز ښارګوټي له اوسېدونکو سره وکتل او په دغه ښارګوټي کې د شته ستونزو د حل په موخه يې خبرې وکړې. لومړی د خواجه رواش هستوګنيز ښارګوټي اوسېدونکو خپلې ستونزې له مقام سره شريکې کړې او غوښتنه يې وکړه، چې دېرش سلنه پاتې رغنيزې چارې دې هم بشپړې شي، څو دوی ته اسانتياوې برابرې شي. ښاغلي سرپرست وزير خلکو ته ډاډ ورکړ چې ستونزې حل کېږي او په وينا يې په همدې موخه د رياسة الوزرا محترم مقام له خوا يوه کمېټه ټاکل شوې، چې د کور او ښار جوړولو وزارت يې غړيتوب لري او دغه کمېټه کې به د شته ستونزو او پاتې چارو د تمام لپاره خبرې وکړي.



# د پنځم مکروريانو د ستونزو د حل په موخه ناسته وشوه



د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزير شيخ حمدالله نعماني له يو شمېر هغه کسانو سره چې په پنځم مکروريانو پروژه کې يې اپارتمانونه اخيستي دي، وکتل او د ستونزو د حل په اړه يې خبرې وکړې. راغلو کسانو خپلې ستونزې له مقام سره شريکې کړې او د حل برخه کې يې د همکارۍ غوښتنه وکړه. د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست شيخ حمدالله نعماني د شته ستونزو د حل په موخه څو بېلا بېلې لارې په ګوته کړې او خلکو ته يې ډاډ ورکړ، چې د وزارت کار کوونکي به يې پوره هڅه وکړي، څو هېڅ لوری زيانمن نه شي.



دافغانستان اسلامی امارت
د فرمانونو او حکمونو د تعقیب او نظارت لوی ریاست
د دارالانشاء ریاست
آمریت پیگیری احکام، فرامین و هدایات
مدیریت عمومی تنظیم اسناد
مدیریت پیگیری فرامین و احکام

گنه: ۱۳۲۳ ۱۰۸۹
نیټه: ۱۳ / ۱۴۴۴/۹

عاجل عادی اطمینانیه ابلاغیه

به وزارت محترم احیاء و انکشاف دهات امارت اسلامی افغانستان!

السَّلامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُاللهِ وَبَرَكَاتُهُ؛

موضوع: تعقیب چگونگی تطبیق فرامین، احکام و هدایات عالی‌قدر امیرالمومنین «حفظه الله»

به‌تأسی ازفرمان شماره(۳۲)مورخ ۱۴۴۴/۸/۲۸ عالی‌قدرامیرالمومنین«حفظه الله» و هدایت شفاهی تاریخی ۱۴۴۴/۹/۱ آن مقام عالی، این اداره مکلف به تعقیب از چگونگی تطبیق تمام احکام، فرامین و هدایات نافذه مقام رهبری امارت اسلامی افغانستان و نظارت از قانونیت اجراآتِ وزارت‌ها، ادارات امارتی و سکتور خصوصی گردیده است..

بنابراین، به‌منظور تعمیل هدایت شفاهی تاریخی آن مقام عالی، هیئتی تحت ریاست محترم مولوی عزت‌الله «راشد» دارنده شماره تلیفون(۰۷۷۲۸۶۷۶۵۲) و محترم شیخ‌سرور«محمدی»، مؤظف گردیده اند تا عجالتاً چگونگی تطبیق فرامین، احکام و هدایات عالی‌قدرامیرالمؤمنین«حفظه الله» را در وزارت‌ها، ادارات امارتی و سکتور خصوصی تعقیب نموده و گزارش آن را ارایه نمایند.

بناً لطف نموده به ریاست‌های تحت اثر خویش هدایت فرمایید تا با هیئت مؤظف این اداره در قسمت تحقق هدایت عالی‌قدرامیرالمومنین«حفظه الله» همکاری همه‌جانبه نموده و تسهیلات لازم را برای‌شان فراهم نمایند.

با احترام

مولوی شمس الدین «شریعتی»
لوی رئیس نظارت و تعقیب احکام و فرامین

# سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن با مسوولین ریاست عمومی نظارت و تعقیب فرامین و احکام عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله دیدار کرد

محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، با مسوولین محترم ریاست عمومی نظارت و تعقیب فرامین و احکام امیرالمؤمنین در دفتر کاری اش دیدار کرد. در این دیدار، روی چگونگی تطبیق احکام، فرامین و هدایات عالی‌قدر امیرالمؤمنین حفظه الله صحبت و تبادل نظر صورت گرفت.

سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، به مسوولین محترم ریاست عمومی نظارت و تعقیب فرامین و احکام، گفت که مسوولان در این وزارت سعی می‌کنند تا احکام، فرامین و هدایات امیرالمؤمنین را به وقت معینه تطبیق نمایند.

محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، افزود که این وزارت با مسوولین ریاست عمومی نظارت و تعقیب فرامین و احکام، در قسمت تعقیب فرامین و احکام به صورت همه جانبه همکاری می‌نماید.

# د ترمیم او ساتنې په موخه د ملي شورا له تاریخي ودانۍ لیدنه وشوه

د کور او ښار جوړولو وزارت اړوند د تاریخي ابداتو او ښارونو د ترمیم او ساتنې ریاست تخنیکي ټیم د ترمیم او ساتنې په موخه د مخکینۍ ولسي جرگې او مشرانو جرگې له ودانیو او دغه راز د صنعت او سوداگرۍ وزارت له ودانۍ لیدنه وکړه. د یاد ټیم په راپور کې راغلي، چې د تاریخي ودانیو د ترمیم، بیارغونې او ساتنې د قوانینو او اصولو له مخې، د یادو ودانیو ترمیم او ساتنه کافي انکشافي بودیجې او زیات وخت ته اړتیا لري چې د کور او ښار جوړولو وزارت یې ترمیم او ساتنې ته ژمن دی. د اطلاعات او فرهنگ محترم وزارت د اسنادو او شواهدو پر بنسټ، د مخکینۍ ولسي جرگې او مشرانو جرگې د ودانیو عمر له اتیا (۸۰) کلونو زیات دی، چې د خپلې زمانې د مهندسۍ او معمارۍ عظمت او ارزښت، د رغنیزو عناصرو د ترکیب، د فرم ځانگړې ښکلا، فضاء، د مهندسۍ او هنري ریتمونو او نورو علایمو له مخې، د نیمه مدرنه سبک معماري په ډاگه کوي. یادې ودانۍ د پلازمېنې کابل له لومړنیو ودانیو دي، چې د نوي کلاسیک معمارۍ وروسته په کال (۱۳۳۰ – ۱۳۴۰) یې د بنسټ ډبره اېښودل شوې ده.



# د ساتنې په موخه د کابل ښار د حشمت خان کول د ډنډ بررسي وشوه

د کور او ښار جوړولو وزارت اړوند د تاریخي ابداتو او پخوانیو ښارونو د ترمیم او ساتنې ریاست تخنیکي ټیم، د کابل ښار اړوند د حشمت خان کول د ډنډ څخه لیدنه وکړه.
د حشمت خان کول سیمه تاریخي ارزښت لري او فرهنگي میراث گڼل کیږي. په دې وروستیو کلونو کې د کابل اړوند (حشمت خان کول) سیمه کې غیرې پلاني ودانۍ جوړې شوي او ځینې سیمې یې غصب شوي هم دي. د حشمت خان کول سیمه ساتنې او جامع پلان ته اړتیا لري، تر څو راتلونکي کې هم یاده سیمه خپل تاریخي ارزښت وساتي او د غصب له گواښ وژغورل شي. د حشمت خان کول؛ لکه د شهدای صالحین، بالای حصار، او د بابر کورنۍ مقبرې، په افغانستان کې خپل تاریخي ارزښت لري. د حشمت خان کول ډنډ د مهاجرو مرغانو د اوسیدو تم ځای هم دی او د هغه الوتونکو مرغانو لپاره تر ټولو مهمه لار او تم ځای دی چې له هند څخه د سایبریا په لور خوځښت کوي.



# برای اعمار تعمیر ادارات ولسوالی مرغی پکتیکا 50 جریب زمین کروکی گردید

ریاست شهرسازی و مسکن ولایت پکتیکا برای اعمار تعمیر ادارات ولسوالی مرغی این ولایت، 50 جریب زمین را کروکی کرد.

در این کروکی ساحات و حدود زمین تعمیر ولسوالی و دیگر ادارات ولسوالی مرغی مشخص شد تا مطابق به آن نقشه مهندسی و تخنیکی تعمیرات طرح و ترسیم گردد.

وزارت شهرسازی و مسکن در پلان‌های شهری در تمام شهرها، ساحات مشخصی را برای ادارات دولتی در نظر گرفته است.



## جلال اباد کې د حج او اوقافو وزارت اړوند مارکېټ د انجنیری نقشې طرح او ډیزاین شوې

د کور او ښار جوړولو وزارت اړوند د ننگرهار ریاست، د دغه ولایت په جلال اباد ښار کې د حج او اوقافو وزارت اړوند د دوه منزله مارکېټ د مهندسی او انجنیری نقشې طرح او ډیزاین کړې. دغه راز د ننگرهار د کور او ښار جوړولو ریاست په دغه ولایت کې د گازو او تېلو د یو پمپ سټېشن د جوړولو انجنیري نقشه جوړه کړه. د کور او ښار جوړولو وزارت د دولتي ادارو په غوښتنه د ودانیو، هستوگنیزو، سوداگریزو او نورو ودانیو د مهندسی او انجنیری نقشې په اساسي او معیاري توگه طرح او ډیزاین کوي او بېرته یې د پلي کېدا په موخه اړوندو ادارو ته سپاري.



## په هلمند ولایت کې د روغتیایي کلینیکونو د کار له بهیر لیدنه وشوه

په هلمند ولایت کې د کور او ښار جوړولو ریاست په دې ولایت کې د روغتیایي کلینیکونو د کار له بهیر څارنه وکړه.

یاد ریاست د هلمند ولایت په خواجه غریب، حاجي خیل، په کجکي ولسوالی کې کوچنی سیمه، په نادعلي ولسوالی کې د ناصرو او ماتکي روغتیایي کلینیک، د نهرسراج ولسوالی روغتیایي کلینیک، په ناوې ولسوالی کې د شورشورک روغتیایي کلینیک، په مارجې ولسوالی کې د غریبانو او بلوچانو روغتیایي کلینیک او د مهاجرو د روغتیایي کلینیکونو د کانکریټ اچونې، د بنسټ ایښودو د کمیت او کیفیت او د خشتکاری له چارو بررسي وکړه. یاده بررسي د کارونو د لا ښه والي په موخه وشوه، تر څو چارې د شرط پاڼې مطابق په معیاري او د انجنیري اصولو مطابق مخته لاړې شي . دغه راز قراردادي شرکتونو ته لازمې لارښوونې هم وشوې.

د کور او ښار جوړولو وزارت د تعمیرونو له چارو نظارت کوي، تر څو د ودانیو کارونه په ښه کیفیت د اصولو سره سم په معیاري ډول سرته ورسېږي.

# تیم اداره عالی تفتیش یافته های خود از تفتیش پروژه‌های ساختمانی وزارت شهرسازی و مسکن را ارایه کرد

تیم اداره عالی تفتیش، در نشستی با محترم شیخ حمدالله نعمانی سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، یافته‌های خود از تفتیش پروژه‌های ساختمانی این وزارت را ارایه کرد.

محترم مولوی محمد حسن موسی زی رییس تفتیش شاروالی‌های اداره عالی تفتیش، ضمن تشکری از همکاری‌های مقام و مسوولین وزارت شهرسازی و مسکن، گفت که آن اداره، هر سال از عمل‌کرد و بخش مالی ادارات تفتیش می‌کنند و یافته‌های تفتیش شان را با مقامات ذیصلاح شریک می‌سازند. وی، اظهارداشت که در همین راستا به تعداد 17 پروژه ساختمانی وزارت شهرسازی و مسکن جهت تفتیش به ما معرفی شد که همه‌ی این پروژه‌ها مربوط به دوره حکومت قبلی بوده و نیاز بود که مورد تفتیش قرار گیرد.

پس از صحبت و بررسی یافته‌های تیم اداره عالی تفتیش، بیان گردید که اسناد تفتیش از پروژه‌های این وزارت تکمیل نبوده و این مسایل نیازمند تحقیق و بررسی بیشتر است.

سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، گفت: برای این که به یک نتیجه برسیم باید اسناد یافته‌های تیم اداره عالی تفتیش تکمیل باشد و همچنین نیاز است تا مدارک تفتیش‌های که در دوره حکومت قبلی از این پروژه‌ها صورت گرفته نیز مطالعه گردد. در ختم این نشست فیصله گردید که تیم اداره عالی تفتیش تمامی یافته‌های خویش از پروژه‌های ساختمانی را در اختیار وزارت شهرسازی و مسکن قرار داده و مسوولان این وزارت نظریات و دیدگاه‌های خود در زمینه یافته‌های تیم اداره عالی تفتیش را به صورت کتبی به آن اداره ارسال نمایند.

## د سردې بند خوا و شا سیمه
## د زرغونتیا لپاره توپوگرافي شوه



د پکتیکا ولایت د کور او ښار جوړولو ریاست په دې ولایت کې د سردې بند خوا و شا سیمه د زرغونتیا لپاره توپوگرافي کړه. په دې توپوگرافي کې د سردې بند خوا و شا 283 جریبه ځمکه د شنې ساحې لپاره مشخص او حدود یې معلوم شول. د کور او ښار جوړولو وزارت په ښاري پلانونو کې د ښارونو د پاکوالي او زرغونتیا په موخه شنې سیمې په نظر کې نیولې دي.

## د کاپیسا ولایت د احمد بیک تپې
## د زیر بنایي شبکو د اصلاحي پلان
## طرحه او ډیزاین تائید شو

د کور او ښار جوړولو وزارت د ښاري چارو محترم مرستیال شیخ مدار علي کریمي بامیاني د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ د احمد بیک تپې د زیر بنایي شبکو د اصلاحي پلان طرحه او ډیزاین تائید کړ. د احمد بیک تپې د زیربنای شبکو اصلاحي طرحه او پلان کې سړک جوړونه، اوبو رسونه، فاضله اوبه، برښنا، د سطحي اوبو مخنیوی، د فاضله اوبو تصفیه خونه او د جادو د روښنانه کولو پلان شامل دی.

د ښاري چارو محترم مرستیال د ښاري زیربناو ډیزاین ریاست څخه د کاپیسا ولایت د نجراب ولسوالۍ د احمد بیک تپې د زیربنایي شبکو د طرحې او ډیزاین د جوړیدو په پار مننه وکړه او زیاته یې کړه چې د دې طرحو د تائید سره به هلته اقتصادي پراختیا او ټولنیزه اسوده گي را منځته شي.

د افغانستان اسلامی امارت
د کور او ښار جوړولو وزارت

## د خپل سرو کورونو جوړولو مخنیوي برخه کې د کور او ښار جوړولو وزارت اعلامیه

له ټولو ښاغلو هېوادوالو هیله کېږي، چې په ښارونو او ولسوالیو کې دې له خپل سرو کورونو جوړولو ډډه وکړي. تاسې پوهېږئ چې خپل سرو کورونو او ودانیو په ښارونو او ولسوالیو کې ستونزې رامنځته کړې او د ښارونو د انځولیزې پراختیا او پرمختګ پر وړاندې خنډ او ځنډ ګرځي.دغه راز د خپل سرو ودانیو جوړول، د هېوادوالو شتمنۍ اغېزمنې کوي، ډېر کله یې ژوند ګواښي او د دولت د لویو او ګټورو پلانونو د پلي کېدا مخنیوی کوي، چې ورسره وخت هم ضایع کېږي. د دې لپاره چې د درنو هېوادوالو شتمنۍ مصؤنه وي، ژوند یې خوندي وي او سرپناه یې هم د بېلا بېلو لاملونو له ګواښ سره مخامخ نه شي، نو ټول درانه هېوادوال دې د سرپناه او ودانیو جوړولو په مهال د کور او ښار جوړولو وزارت، په ولایتونو کې اړوند ریاستونو او اړوندو ښاروالیو سره مشوره کوي او د پلان سره سم دې په رغنیزو چارو اقدام وکړي.

## اعلامیه وزارت شهرسازی و مسکن برای جلوگیری از ساخت و ساز خانه‌های خود سر

به اطلاع عموم شهروندان محترم رسانیده می‌شود که از ساخت و ساز خانه‌ها و ساختمان های خود سر در شهرها خود داری نمایند. همان قسمی که خانه‌های خودسر و غیر پلانی در شهرها مشکلات زیادی را ایجاد کرده است، مانع بزرگ در انکشاف متوازن شهرها بوده و سبب ضیاع وقت و سرمایه امارت و مردم می‌شود. لذا برای اینکه مسکن و سرمایه در این بخش مصئون باشد، در ساخت و ساز مسکن تان از ادارات و مراجع مرتبط اجازه اعمار را اخذ و مطابق به آن، اقدام نمایید.



# د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست د کابل له والي سره وکتل

د کور او ښار جوړولو محترم سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني د کابل له محترم والي شیخ محمد قاسم خالد، د کابل ولایت د جنایي تحقیقاتو محترم رئیس او مل پلاوي سره ولیدل. په دغه لیدنه کې د کور او ښار جوړولو وزارت د ساختماني چارو، مسکن او زونونو د پراختیا محترم سرپرست مولوي روح الله احمدي او د دې وزارت ځینو رئیسانو هم ګډون درلود، چې د کابل جدید ښار پر بېلا بېلو موضوعاتو خبرې وشوې. د ناستې پر دوام، د کابل جدید ښار د عملي چارو پر وړاندې د شته ستونزو، ننګونو او حل لارو خبرې وشوې. په ټوله کې د ناستې موخه دا وه، چې څنګه کېدای شي د کابل جدید ښار رغنیزې چارې ګړندۍ شي او پر وړاندې یې شته خنډونه له منځه یوړل شي.

د کور او ښار جوړولو وزارت ښاغلي سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني د کابل جدید ښار پروژه یوه ستره ملي پروژه یاده کړه، چې په وینا یې ټولې چارې یې باید د پلان مطابق پر مخ یوړل شي او هېچاته اجازه نه ورکول کېږي، چې د پلان خلاف او د پلان د پلي کېدا مخنیوی وکړي.

# اسکیچ زمین تعمیر ریاست شهرسازی و مسکن ولایت سرپل


ریاست شهرسازی و مسکن ولایت سرپل زمین تعمیر این اداره را اسکیچ کرد. بر اساس این اسکیچ ساحات و حدود زمین تعمیر ریاست شهرسازی و مسکن ولایت سرپل مشخص شد تا مطابق به آن نقشه مهندسی و تخنیکی این تعمیر طرح و ترسیم گردد. وزارت شهرسازی و مسکن در پلان‌های شهری در تمام شهرها، ساحات مشخصی را برای ادارات دولتی در نظر گرفته است.



# پلان اصلاحی بهسازی ساحات کوهی‌خانه، نذیرآباد و خواجه پایتخت در مرکز فاریاب تأیید شد

نشست کمیسیون امور شهری ویزه نقشه ها به رهبری محترم شیخ مدارعلی کریمی بامیانی و اشتراک اعضای این کمیسیون برگزار گردید. در این نشست، پلان اصلاحی بهسازی ساحات کوهی‌خانه، نذیرآباد و خواجه پایتخت در مربوطات نواحی اول و چهارم شهر میمنه مرکز ولایت فاریاب که توسط ریاست بهسازی ساحات غیر پلانی این وزارت ساخته شده است مورد تأیید قرار گرفت. همچنین اعضای این کمیسیون، روی موضوعات مختلف شهری، از جمله پلان تفصیلی ساحه بند کوسه ولایت بامیان صحبت کرده، نظریات و دیدگاه های شان را پیرامون موضوعات مطرح شده بیان کردند.

معین امور شهری، بر پیشبرد به موقع فیصله های کمیسیون امور شهری ویزه نقشه‌ها تأکید کرده و به مسوولین مربوطه برای رفع مشکلات فنی پلان تفصیلی ساحه بند کوسه ولایت بامیان، هدایت سپرد.



# د کور او ښار جوړولو وزارت سرپرست د یونسکو د فرهنګي برخې له مسؤل سره وکتل

د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وزیر شیخ حمدالله نعماني په خپل کاري دفتر کې د یونسکو سازمان د فرهنګي برخې له مسؤل محترم برینډا کسار او د ایتالیا د فلورانس پوهنتون استادانو سره وکتل. په دغه کتنه کې، د وزارت او یونسکو سازمان د فرهنګي برخې ترمنځ د اړیکو پر ټینګښت، د تاریخي ابداتو او فرهنګي میراثونو پر ساتنې بحث وشو.
محترم سرپرست وزیر، د یونسکو د فرهنګي برخې مسؤل اوملګرو ته د ښه راغلاست تر څنګ وویل، افغانستان د ډېرو تاریخي ابداتو او فرهنګي میراثونو درلودونکی دی چې دا تاریخي ابدات او میراثونه ساتنې او پالنې ته اړتیا لري. دغه راز محترم وزیر وویل، د کور او ښار جوړولو وزارت د تاریخي ابداتو، فرهنګي میراثونو، او تاریخي ښارونو د رغونې او ترمیم په موخه د دې وزارت په اډانه کې ځانګړې ریاست لري چې په ټول هېواد کې فعالیت کوي. د کور او ښار جوړولو وزارت محترم سرپرست وویل، د دې وزارت مسؤلین او متخصصین د تاریخي ښارونو د بیا رغونې او ساتنې په موخه له اړوندو ادارو سره پلانونه ترتیبوي، چې ګټور ثابت شوي دي. نوموړي دغه راز په افغانستان کې د یونسکو د فرهنګي برخې له مسؤل وغوښتل چې د پلانونو په ترتیب او د تاریخي ابداتو په رغونه او ساتنه کې له دوی سره همغږي او همکاري لا زیاته کړي. په ناسته کې، افغانستان کې د یونسکو د فرهنګي برخې مسؤل محترم برینډا کسار وویل، افغانستان کې ډېر تاریخي ابدات او فرهنګي میراثونه شتون لري، چې نړیوالو ته ځانګړې اهمیت لري. نوموړي په کابل، هرات، بلخ او نورو ولایتونو کې د تاریخي ابداتو یادونه وکړه او په ځانګړې توګه یې د بامیان ولایت د تاریخي ابداتو ارزښت ته اشاره وکړه.



# د حج او عمرې په اړه لنډ معلومات

مولوي نقيب الله "احمدي"

د حج د فريضې دلايل: الله ج په خپلو بنده گانو د بيت الله شريف زيارت فرض کړی او د اسلام د پنځو ارکانو له جملې يو رکن دی. الله ج فرمايلي (ولله على الناس حج البيت من استطاع اليه سبيلا ومن کفر فان الله غنی عن العالمين) : ژباړه ( او واجب دی د الله ج لخوا پر خلکو د الله د کور (بيت الله شريف) حج قصد کول (په نيت د حج) پر هر هغه چا چې د ده طرف ته د لارې قدرت ولري او هرڅوک چې کافر شو او وې نه مانه، له شک پرته الله ج بې پروا دی له ټول عالمه څخه. حديث شريف دی (وعن ابن عمر ان النبی صلی الله عليه وسلم قال، بنی الاسلام علی خمس شهادة ان لا الله الا الله وان محمداً رسول الله و اقام الصلاة وايتاء الزکاة و صوم رمضان وحج بيت الحرام) ژباړه (د اسلام پنځه بناوې دي، لومړی د شهادت کليمه دوهم لمونځ دريم زکات څلورم روژه او پنځم د بيت الله شريف حج اداء کول، نو حج د اسلام له پينځو ارکانو څخه يو رکن دی، چې پر هر عاقل، بالغ او آزاد مسلمان چې مالي او بدني توان ولري په عمر کې يو ځل فرض دی. کله چې يو مسلمان د حج يا عمرې د سفراراده وکړي، نو مستحب دی

چې خپل ټول اهل او اولاد ته د الله ج څخه د ويرې وصيت وکړي او که د ده پر يو چا کوم حق وي هغه دې هم وليکي او د حج د اداء کولو لپاره دې حلال مال جمع کړي، ځکه چې په حديث شريف کې راغلي دي. (وعن ابی هريرة(رض) قال: قال رسول الله صلی الله عليه وسلم، اذا خرج الرجل حاجآ بنفقته طيبته وضع رجله فی الغرز فنادی لبيک اللهم لبيک ناداة مناد من السمآ، لبيک وسعديک ذادک حلال و راحلتک حلال و حجک مبرور غيرمازور و اذا خرج الرجل باالنفقة فوضع رجله فی الغرز نادی لبيک اللهم لبيک نا داه مناد من السمآ،لا لبيک ولا سعديک زادک حرام و نفقتک حرام وحجک غير مبرور.) رواه طبرانی. ژباړه: کله چې يو حاجي له کور څخه د حج اداء کولو لپاره ووځي، په پاک مال سره او پښه يې په رکاب کې کېښوده (په اوس وخت کې ورڅخه مراد موټر يا الوتکه ده) بيا آواز وکړي، چې يا الله زه تاته په طاعت ولاړ يم د اسمان څخه به ورته يو آواز کونکی ووايي ښه راغلاست او نيک بخته راغلاست، ستا مال حلال دی او ستا د سفر وسيله مال او پيسې هم حلالې دي، ستا حج خدای ج ته منظور دی او پر تا پېټې نه دی او همدارنگه که کوم حاجی چې په حرام مال د حج

لپاره له کوره ووځي او خپله پښه يې په رکاب کې کېښوده او تلبيه يې شروع کړه، چې اې خدايه زه تاته په طاعت ولاړ يم، نو له آسمان څخه به ورته يو آواز کونکی ووايي، نه ښه راغلې او نه نيک بخته يې يعنې ته بدبخته يې، ستا د سفر پيسې حرامې دي او ستا د مصرف مال حرام دی، حج دې قبول ندی.

